AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۶/۰۹/۲۶

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(پنځه دېرشمه برخه)




(پر ډیورنډ کرښه، د امریکا پر مالي مرسته، د پاکستاني پوځ لهخوا په یو اړخیزه توګه د ازغن تار غځول.)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۳۱)

## له ځلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۴)

### جنرال قمر جاوېد باجوه: (له ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۲۲ کال پورې)

جنرال قمر جاوېد باجوه د لا زیات شهرت د تر لاسه کولو او د خپل پوځي واک د اوږدولو لپاره چمتو ؤ له ډېر څه تېر شي، باجوه چې په کشمیر کې دری ځله د پوځي ځواکونو قوماندان پاتې شوي ؤ، غوښتل یې له هند سره د کشمیر مساله حل کړي، که څه هم د هند په ګټه تمامه هم شي.

هغه ویلي وو:«اوس د دې وخت رارسیدلی چې تېر وختونه په خاوره کې ښخ کړو او وړاندي ولاړ شو خو د سولې د بهیر د بیا پیل او مانا لرونکو خبرو اترو لپاره، زموږ ګاونډی هېواد باید وړ چاپېریال رامنځته کړي، په ځانګړي ډول په هندي اشغال شوي کشمیر کې.»[1]

د پاکستان وتلي ژورنالیست، لیکوال، سیاسي تحلیلکوونکی او د جیو تلویزیون چلوونکی، **(حامد میر)** وویل چې باجوه د ۲۰۱۹ز. کال، د اګست په ۵مه نېټه، **د کشمیر د خپلواک حیثیت له لغوه کېدو وروسته، د هند د (نریندرا مودي) د حکومت په ګټه د کشمیر په مسئله کې د پاکستان له دريځه جوړجاړی کړی ؤ.**

[1]: https://web.archive.org/web/20210725144727/https:/www.aninews.in/news/world/asia/pakistan-bajwa-doctrine-202210329173121/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

حامد میر دا هم وویل چې باجوه پاکستان ته د هند د لومړي وزیر، مودي د سفر زمینه هم برابره کړې وه او غوښتل یې چې **د کشمیر شخړه د شلو کلونو لپاره حل، یا کنګل کړي څو د نوبل د سولې جایزه تر لاسه او د پاکستان د پوځ د ستردرستیز په توګه، د درېیم ځل لپاره هم پاتې شي.**[2]

## مالي فساد:

د جنرال باجوه د خپل پوځي واک د اوږدولو بله بنسټیزه موخه دا وه: څومره چې ډېر په واک کې پاتې شي نو لا ډېرې پیسې به د مالي فساد له لارې تر لاسه کړي.
د جنرال باجوه د دندې په وروستیو ورځو کې د هغه د کورنۍ د شتمنیو اسناد د خبریال **(احمد نوراني)** لهخوا د هغه په (FactFocus) کې رسوا شول. په ۲۰۲۲ز. کال کې د هغه کورنۍ د ۲۰۱۶ او ۲۰۲۲ز. کلونو ترمنځ له ۱۲.۷ میلیاردو پاکستانۍ روپیو څخه زیاته شتمني ترلاسه کړې ده چې **په ۲۰۲۱ز. کال کې د ارزښت له مخې ۶۵ میلیاردو روپیو، یا ۲۳۰ میلیونو امریکایي ډالرو سره برابره وه.**[3]

د جنرال باجوه د کورنۍ په دغه شتمنۍ کې نړیوال سوداګریز کاروبار ؤ چې په بهر کې څمکې، ملکیتونه او پانګې او په پاکستان کې دننه سوداګریزې پلازاوې، فارمهاؤسونه او د هېواد په لویو ښارونو کې استوګنیز جایدادونه شامل وو. **د دغه راپور له خپریدو وروسته، په پاکستان کې FactFocus رسنۍ له حکومتي بندیزونو او د انټرنیټ له محدودولو سره مخ شوه.**[4]

## د اسراییلو په رسمیت پېژندل

د بنګله دېش مشهورې انګرېزۍ ورځپاڼې **(New Age)** راپور ورکړ چې د عمران خان له واکه له لرې کیدو وروسته، د جنرال باجوه، اسراییلپلوه درېځ هغه مهال ځرګنده بنه خپله کړه چې د پاکستان ډیموکراتیک غورځنګ(PDM) واک ته ورسید. [نوموړی اتحاد د لومړي وزیر عمران خان پر خلاف د پاکستان له ۱۱سیاسي ګوندونو جوړ شوی ؤ] او د باجوه او پوځ له ملاتړه برخمن ؤ.[5]

په ۲۰۲۳ز. کال کې، حامد میر وویل: جنرال باجوه څځه کوله عمران خان کمزوری کړي او په دې توګه یې **«هغه د اسراییلو د رسمیت پېژندلو پر لور تېله کاوه.»** په داسې حال کې چې خان په دې برخه کې زړه نا زړه ؤ. په ۲۰۲۴ز. کال کې، حامد میر دا هم ویلي وو چې باجوه دوه ځله خبریالان وربللي وو، څو له هغوی سره د اسراییلو د اړیکو او د هغوی د پیاوړتیا په اړه خبرې وکړي.[6]

د **Hindustan Times** په وینا (چې د **Israel Hayom** راپور یې سرچینه بللې وه) په ۲۰۲۱ز. کال کې ولیکل چې **(ذوالفقار بخاري) د اسراییلو د بن ګوریون هوایي ډګر او بیا تلابیب ته تللی ؤ او د عمران خان او جنرال باجوه یو پیغام یې د هغه مهال د اسراییلي استخباراتو مشر (یوسي کوهن) ته رسولی ؤ.** په راپور کې ادعا شوې وه چې دا سفر د متحده عربي اماراتو د فشار پایله وه.[7]

## جنرال باجوه او افغانستان

---

[2]: https://www.thefridaytimes.com/2023/04/23/gen-bajwa-kashmir-sauda-court-martial-hamid-mir-nasim-zehra/
[3]: https://dailytimes.com.pk/1030396/dar-orders-probe-into-coas-familys-tax-record-leakage/
[4]: https://thewire.in/south-asia/pakistani-news-website-blocked-for-18-hours-after-publishing-report-on-army-chief-familys-assets
[5]: https://www.newagebd.net/article/197922/imran-khan-and-a-zionist-army-chief
[6]: https://www.youtube.com/watch?v=xl83MwOefWw
[7]: https://www.hindustantimes.com/world-news/pak-pm-imran-khan-s-aide-made-secret-visit-to-israelreport-101624872674038.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان پر وړاندې، د جنرال باجوه دریځ هماغه شان ؤ، لکه څرنګه چې د پاکستان پخوانیو جنرالانو دریځونه وو، جنرال باجوه ظاهراً په خپلو رسمي ویناګانو کې د افغانستان د سولې او له افغانستان سره د ښو اړیکو ملاتړ کاوه، د افغانستان کې سوله یې د پاکستان کې سوله بلله. **خو نیت او عمل یې د خپلې وینا پر خلاف وو. د باجوه د کارې دورې تر ټولو مهمه موضوع د ډیورنډ پر کرښه په یو اړخیزه توګه د ازغن تار لګول وو،** سره له دې چې د جنرال راحیل شریف د دندې پر مهال پر ډیورنډ کرښه شاوخوا د ۲۶۰۰ کلیومټرو په اوږدوالي، د ازغن تار د لګولو پروژه، د امریکایانو په مالي لګښت منظوره شوې وه خو بشپړ کار یې د جنرال باجوه په لاربښوونه، د ۲۰۱۷ز. کال په مارچ میاشت کې په رسمي او عملي توګه، د مومندو او باجوړ ایجنسۍ څخه پر نوموړې کرښه پیل شو چې په وروستیو کلونو کې یې د دې کرښې لویه برخه په ازغن تارونو وتړله او دا یې د ترهګرو د تګ‌راتګ د مخنیوي مهمه وسیله وبلله.
انګرېز استعمار او د استعمار لارویانو پاکستاني پوځ په حقیقت کې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د یو پلار زامن (پښتانه) سره جلا کړي او د افغان خاورې پر بشپړتیا د تیري له امله یې د جګړو اور د تل لپاره بل ساتلی دی.

هغه مهال چې اشرف غني د افغانستان ولسمشر وټاکل شو نو تر ډېرې مودې پورې پر ډیورند کرښه، د ازغن تار د غځولو په تړاو غلی ؤ، داسې چپ پاتې ؤ لکه چا چې سخت وېرولی وي او ورته ویلي یې وي چې **«که په دې اړه دې یوه خبره له خولې ووتله، خوله به درباندې څیرې کړم.»**
زموږ چې نور څه له وسه نه کېدل، په دې تړاو مې **(د ولسمشر اشرف غني تاریخي بدنامي، (ډیورنډ کرښه)** تر سرلیک لاندې یوه لیکنه ولیکله چې په دې لیکنه کې، **د شاه شجاع، امیرمحمد یعقوب خان او امیرعبدالرحمان خان په اړه هغه ملي خیانتونه په ګوته کړي وو چې له امله یې د لوی افغانستان یوه لویه برخه خاوره پنجابي سپکانو او انګرېز استعمار ته پرېښودل شوې وه.**
**او په دې ۲۱مه پېړۍ کې، زموږ ولسمشر، د نړۍ دویم مفکر؟ اشرف غني، د خپلې بې‌کفایتۍ او بې‌مسؤلیتۍ له امله، د پورته تاریخي خاینانو په لیکه کې څلورم کس دی.** (د ډېرو مالوماتو لپاره، د افغان جرمن آنلاین پورټال کې (د ولسمشر اشرف غني تاریخي بدنامي ...) تر سرلیک لاندې لوستلی شئ.)

څه موده وروسته پر ډیورند کرښه د ازغن تار د لګولو پر مهال، ځایي اوسیدونکو او ځایي افغان امنیتي ځواکونو او وروسته د اسلامي امارت ځواکونو مخالفت وکړ چې له امله یې د کرښې پر سر، په ډېرو سیمو کې خونړۍ نښتې رامنځ ته شوې چې د څو مهمو نښتو په اړه لاندې مالومات وړاندې کوو:

د ۲۰۱۷ز. کال د مې په ۵مه نېټه، د چمن نښته د ازغن تار د لګولو او د لقمان، نظر او جهانګیر په کلیو کې (چې د ډیورنډ کرښې بر اړخ ته پراته دي) د پاکستان د سرشمېرنې له امله تر ټولو سخته لومړنۍ نښته وه، د دواړو خواو سرحدي ځواکونو ترمنځ درنه جګړه وشوه چې له درنو وسلو کار واخیستل شو، دواړو لورو ته مرګ‌ژوبله واوښته، **په جګړه کې د پاکستان سرحدي ځواکونه وتښتیدل او یو زغره‌وال ګاډۍ یې هم پر ځای پرېښود. د چمن لاره د اوږدې مودې لپاره وتړل شوه.**[8]

بله جګړه د خوست ولایت د ځاځي میدان په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۸ز. کال په اپرېل کې رامنځ ته شوه پاکستانیو ځواکونو هڅه کوله په سیمه کې پرمختګ وکړي او د ازغن تار د لګولو په موخه پوستې جوړې کړي. هغه وو چې افغان سرحدي ځواکونو او سیمه ییزو خلکو د پاکستانیو پوځیانو مخه ډب کړه، **په دې څو ورځنۍ جګړه کې د پاکستان څو تنه پوځیان ووژل شول او د هغوی ځینې وسلې افغان ځواکونو ترلاسه کړې.**

سره له دې چې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې وړې، وړو نښتو دوام درلود خو په ۲۰۱۹- ۲۰۲۰ز. کلونو کې د ننګرهار او کونړ په سیمو کې هم د اغزن تار د لګولو له امله سختې جګړې شوې دي، پاکستاني لورې پر افغان خاوره راکښې بریدونه هم وکړل خو افغان ځواکونو په ځینو سیمو کې د تار لګولو مخه ونیوله.

[8] : د لا زیاتو مالوماتو لپاره ولولئ په افغان جرمن آنلاین پورټال کې، د دې قلم لیکنه: (پاکستانی پوځ ولې په مخامخ جګړو کې ناکام دی؟)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال، (۲۰۲۱. ډسمبر - ۲۰۲۲ز. جنوری) کې، د جنرال باجوه د دندې په وروستي کال کې **د طالبانو سرحدي ځواکونو د ننګرهار په ګوشته، نیمروز او هلمند کې، پر ډیورنډ کرښه د پاکستان لهخوا لګول شوي ازغن تارونه پرې کړل.**



(د ډیورند کرښې په ځینو برخو کې د افغان ځواکونو لهخوا د ازغن تار تولول)

د ۲۰۲۱ز. کال په ډسمبر کې د ننګرهار ولایت، ډیورند کرښې ته څېرمه د ګوشتې په ولسوالۍ کې د طالبانو یو سیمهییز قومندان په مشرۍ تارونه راټول شول چې په یوتیوب کې یې ویډیوګانې ډېرې مشهورې شوې. له دې وروسته په ډېرو سیمو کې نښتې رامنځ ته شوې چې د جنرال باجوه د دورې تر پایه روانې وې او د دواړو هېوادونو اړیکې یې سختې ترینګلې کړې.

پاکستاني پوځیانو په دې پلمه چې ګواکې ډیورنډ کرښې ته څېرمه ولایتونو کې د ټيټيپي وسلهوال اوسېږي، کرښې ته پراته ولایتونه لکه: کونړ، ننګرهار، کندهار، پکتیکا، خوست او نورو ولایتونو باندې د توپچي، راکټي او ډرون الوتکو بریدونه وکړل. د سپین بولدک او تورخم دروازې څو ځله د نښتو له امله وتړل شوې.

## د ټيټيپي د دریيم مشر ملافضلالله وژل

**د جنرال باجوه د قوماندانۍ پر مهال د ټيټيپي مشر ملا فضلالله چې له ۲۰۱۳ز. کال راپدېخوا د تحریک طالبان پاکستان مشر ؤ، د ۲۰۱۸ز. کال د جون په ۱۴مه نېټه د کونړ ولایت د مرورۍ ولسوالۍ، ډیورند کرښې ته څېرمه، د امریکایانو د یوې بېپیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو.** د پاکستان پوځ او جنرال باجوه د ملافضلالله پر وژلو خوښي ښکاره کړه.

هغه مهال موږ حیران پاتې شوو کله مو چې په راپوړونو کې واورېدل چې **ملافضلالله د افغان کشفي مالوماتو پر بنسټ، د امریکا په هوايي برید کې ووژل شو.**

افغان ولسمشر اشرف غني د ملا فضلالله په وژل کېدو اعتراف وکړ، ویې ویل چې ملا فضلالله د افغان امنیتي ادارو د پرلهپسې بشري استخباراتي مالوماتو پر بنسټ وژل شوی دی.

«اشرف غني د پاکستان له لندمهالي لومړي وزیر **(نصیرالملک)** او د پوځ ستردرستیز جنرال باجوه سره پر ټیلفون خبرې وکړې، **غني وویل چې د ملافضلالله وژنه د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د نه ستړي کېدونکو کشفي هلوځلو پایله ده.»**[9]

ټيټيپي دلې هم مالومات خپاره ورکړل چې د افغانستان د ملي امنیت اداري د دغه برید مالومات امریکایانو ته ورکړي وو.

ملافضلالله هغه مهال له ډیورند کرښې دېخوا راواوښت چې په ۲۰۰۹ز. کال کې پاکستاني پوځ د سوات په دره کې د **(راه راست)** په نوم پراخ عملیات پیل کړل نو ملافضلالله د نورستان او کونړ په ولایتونو کې ځایپرځای شو.

د ولسمشر حامد کرزي د واک په وروستیو کلونو کې، د ډیورند کرښې شاوخوا، د ټيټيپي له سرتېرو سره (پرته له هغو کسانو چې د افغان ځواکونو پر وړاندې یې جګړه کوله) افغان ځواکونو تر ډېره کار نه درلود. پاکستاني پوځ چې د افغانانو، په ځانګړي توګه، د لرو او برو پښتنو ګډ دښمن دی، نو ځکه د حامد کرزي د ولسمشرۍ په وروستیو کې، افغان امنیتي ادارو له ټيټيپي سرتیرو سره، له امریکایانو ښخه په پټه، ملاتړ کاوه.

[9]: https://www.khaama.com/pashto/archives/13670


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

خو کله چې اشرف غني ولسمشر وټاکل شو، هغه غوښتل له پاکستان سره ښې اړیکې ولري او جګړه پای ته ورسوي د پاکستان لومړنی غوښتنه له اشرف غني څخه دا وه چې د افغانستان د ملي امنیت مشر رحمت الله نبیل له دندې ګوښه کړي، پاکستانیان پوهیدل چې د ملي امنیت مشر، د کوزو پښتنو وسله‌والو ملاتړ کوي. اشرف غني چې د پاکستان په اړه غولیدلی او فکر یې کاوه چې پاکستان به دوست کړي نو د پاکستان د خوشالولو لپاره یې د ټي‌ټي‌پي سرتېرو له ملاتړه لاس واخیست او بې‌له ځنډه یې د ملي امنیت مشر له دندې ګوښه او پر ځای یې د خپلې خوښې کس **(محمد معصوم ستانکزی)** چې د برهان‌الدین رباني د وژلو پر مهال د طالبانو په یو سرتیري برید کې ټپي شوی ؤ؛ وټاکه.

اشرف غني چې له آره د کوزو پښتنو په غم کې نه ؤ او نه په دې پوهیده چې د لوی افغانستان نیمه خاوره پاکستان لاندې کړې ده... نو په افغانستان کې د ننه د ملافضل‌الله وژل کیدلو هیڅ اهمیت نه ورته درلود.
ملافضل‌الله د افغان حکومت په اجازه، لکه یو میلمه چې د چا په کور کې اوسیږي اوسیده، طبیعي ده چې کوربه ته د میلمه تولنه ناسته ولاړه مالومه وي او مرګ او ژوند یې د کوربه په لاس کې وي. د نړۍ په ډېرو قومونو، په ځانګړي توګه په پښتنو کې دا د پښتونولی اصل دی چې خپل میلمه ته په خپل کور کې هیڅکله زیان نه رسوي، که هغه یې د سر دښمن هم وي. پر کوربه فرض ده چې د خپل سر په بیه د خپل میلمه ساتنه وکړي چې ښه بېلګه یې د افغان طالبانو مشر ملا محمد عمر دی چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن یې امریکایانو او عربانو ته ورنه کړ، د یو کس میلمه له امله یې خپل نظام وران کړ خو خپله پښتونولي او مسلماني یې وساتله.
همدا ډول یوه بله بېلګه هم شته چې د حامد کرزي د ولسمشرۍ پر مهال د ۲۰۱۳ز. کال په فبرورۍ کې د ټي‌ټي‌پي مرستیال مولوي **(فقیر محمد)** د امنیتي ځواکونو لخوا ونیول شو، پاکستان له افغان حکومت څخه په رسمي توګه د مولوي فقیر محمد د ورسپارلو غوښتنه وکړه خو حامد کرزي په خپلو دلایلو د پاکستان غوښتنه رد کړه او نوموړي مولوي یې ورنه کړ.[10]

**امریکایانو د ملافضل‌الله پر سر ۵میلیونه امریکایي ډالر او پاکستان ۵۰میلیونه کلداري جایزه ایښې وه،** دا د بې‌پښتو افغانانو لپاره ډېرې پیسې دي چې د ملافضل‌الله د مرګ په بدل کې یې ترلاسه کړي، دغو تش په نوم افغانانو (چې په سر کې یې ولسمشر غني دی) نه یې خپلې پښتونولی ته وکتل او نه یې خپلې مسلمانی ته، **لنډه دا چې دوی په دې کار سره د افغانستان تاریخي دښمن پاکستان خوشاله کړ او خپل تاریخ یې ناولی کړ.**



(د ټي‌ټي‌پي درېیم مشر، مولوي فضل‌الله)
نېټه:۱۴۰۵/۷/۲ل. ل

**نور بیا**

**د ښاغلي محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولی.**

10:https://da.azadiradio.com/a/24909247.html